هفته نامه
# معارف
اوونيزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۸٦) ماه ربیع الثانی ۱٤٤٦ هـ ق مطابق میزان ۱٤۰۳ هـ ش

**مطالعه او لوستل انسان بشپړوي.**

صفحه دوم



معرفی سیستم «برید» به روئسای معارف ولایات جنوب و جنوب غرب کشور

صفحه سوم



چگونه فرزند حرف شنو داشته باشیم؟

صفحه چهارم




غزني کې د خلکو په مالي مرسته د يو باب ديني مدرسې او يو ښوونځي د جوړېدو چارې پيل شوې

## سفر سرپرست وزارت معارف به ولایت کنر

محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف به هدف بررسی وضعیت تعلیمی ولایت کنر، عازم آن ولایت شد.

سرپرست وزارت معارف در این سفر در حالی که از سوی محترم مولوی محب الله حیدری... صفحه ۲



## افتتاح یک باب مدرسه دینی در ولایت فراه


ساختمان جدید یک باب مدرسه دینی به نام بی‌بی ماریه (رضی الله تعالی عنها) در روستای ده یک مرکز ولایت فراه پس از اتمام کار ساختمانی آن از سوی محترم الحاج مولوی اخترم محمد زعیم رئیس معارف و شماری از بزرگان قومی طی محفلی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

به اساس معلومات مسئولان در ریاست معارف ولایت فراه ساختمان جدید مدرسه یاد شده سه میلیون افغانی هزینه برداشته است که با ساخت این مدرسه زمینه فراگیری علوم دینی برای صدها تن از طالب العلمان روستای ده یک و چندین روستای دیگر فراهم گردیده است.

رئیس معارف ولایت فراه ضمن سپاسگزاری از باشنده گان محل بابت حمایت شان از معارف کشور از آنان خواست تا به حمایت های مادی و معنوی شان از معارف ادامه داده و فرزندان شان را به هدف فراگیری علوم دینی و عصری صفحه ۲

## د ولايتونو پوهنې رياستونو کار کوونکو ته د وړتيا لوړونې سيمينار جوړ شو

په هغه غونډه کې چې د پوهنې وزارت د مرکزي او ولايتي رياستونو د مسلکي غړو د کړنو لاښه والي په موخه د وړتيا لوړونې سيمينار د پيل په مناسبت جوړه شوې وه، د پوهنې وزارت د سرچينو او اداري معين محترم الحاج مولوي صبغت الله وصيل، د ياد وزارت د اداري عمومي رياست مرکزي رئيسانو او روزونکو ګډون درلود.




په پيل کې د پوهنې وزارت اداري لوی رئيس محترم مفتي محمد يوسف ثاقب ګډون والو ته ښه راغلاست ووايه او د ياد سيمينار موخې يې هغوی ته تشريح کړې.

نوموړي څرګنده کړه: اخلاص او د کار کوونکو د مسلکي وړتيا لوړول په ادارو کې د چارو د لاپرمختګ لامل ګرځي.

ورپسې د سرچينو او اداري معين هم د کار کوونکو د وړتيا لوړونې په ارزښت خبرې وکړې او زياته يې کړه: د يوې اداري پياوړتيا او رونتيا د هېواد او خلکو په خدمت کولو او د کار کوونکو په پاک نيت پورې تړلې ده.

د يادونې وړ ده، دغه درې ورځنی پروګرام د پوهنې وزارت د تشکيلاتو رياست له خوا د مرکز او ولايتونو د پوهنې رياستونو د شاوخوا ۷۲ تنو کارکوونکو د مسلکي وړتياوو لوړولو په موخه جوړ شوی وو، چې په ترڅ کې يې هغوی ته د ښوونيزو اړتياوو ارزونې، د وخت مديريت، پلان جوړونې، راپور ورکولو، همغږۍ او ارتباط برخه کې روزنه ورکړل شوه.

سرليکنه

## ښوونکي د ټولنې مشعلونه دي

د اسلام مقدس دين ښوونکي ته ځانګړی مقام ورکړی دی که له يوې خوا مور او پلار د خپلو ماشومانو لومړنی روزنه پر غاړه لري او دوی ته کورنی زده کړې ورکوي، له بلې خوا ښوونکي د خپل هېواد د بچيانو په روزنه او پالنه کې لويه ونډه اخلي.

په دې اساس ويلی شو چې ښوونکي په ټولنه کې د ښوونې او روزنې اساسي بنسټ جوړوي، ټولنې ته د امن او سوکالۍ راوړونکي دي او دغه راز دوی خپل هېواد ته په اسلامي او عصري تکنالوژۍ سمبال کادرونه وړاندې کوي، ځکه خو ښوونکو ته د معنوي پلار لقب ورکړل شوی دی. ... ۲مخ

## بلخ کې د يوې ديني مدرسې د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د بلخ ولايت د بلخ ولسوالۍ اړوند د عبدالرحيم زيو کلي کې د قاسميه په نوم د يو باب ديني مدرسې د جوړېدو د بنسټ ډبره د يو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې د دې ولايت د پوهنې رياست چارواکو، ديني علماء کرامو او د سيمې يو شمېر قومي مخورو له لوري کېښودل شوه.



د بلخ ولايت پوهنې رئيس محترم مفتي محمد شريف عثماني په دغه مراسمو کې وويل: تاکل شوې د يادې مدرسې وداني په دريو پوړونو کې چې د درسي او اداري خونو تر څنګ به نور اړين ملحقات هم ولري په ۲.۵ جريبه ځمکه کې جوړه شي. د نوموړي په وينا د جوړېدو لګښت يې چې ټولټال ۸ ميليونه افغانۍ اټکل شوی دی چې د حاجي ميکائيل په نوم د دې سيمې د يو تن علم پروره او قومي مخور لخوا ورکول کېږي. د پوهنې رئيس زياته کړه چې د يادې ديني مدرسې په جوړېدو سره به د دې کلي او شاوخوا سيمې په سلګونو تنه طالب العلمانو ته د زده کړو زمينه برابره شي.

نوموړي د خپلو خبرو په دوام د اسلام له نظره د مدارسو او ښوونځيو د جوړېدو او پدې برخه کې د خلکو مرستې پر فضايلو تفصيلي خبرې وکړې، او له خلکو يې وغوښتل چې خپل اولادونه مدرسو او ښوونځيو ته ولېږي.

په همدې حال کې د سيمې يو شمېر قومي مخورو او علماء کرامو هم د يادې مدرسې په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې وزارت له مشرتابه څخه مننه وکړه چې د دوی بچيانو ته يې د زده کړو زمينه برابره کړې.

د پوهنې وزارت مشرتابه د هېواد د پرمختګ يوازينۍ لار د ښوونيز نظام پراختيا او له پوهنې څخه د خلکو ملاتړ ګڼي او د بلخ ولايت اوسېدونکو په ګډون د پوهنې په برخه کې د عام ولس له مرستو مننه کوي.

د يادونې وړ ده چې په تېر کې هم د هېواد په بېلابېلو سيمو کې په لسګونو ديني مدرسې او ښوونځي د خلکو په مالي مرسته جوړ شوي چې په دې سره د هېواد زرګونو بچيانو ته د زده کړې خونديز چاپېريال رامنځ ته شوی.

## آغاز کار بازسازی ۲۵ باب مدرسه و مکتب در هرات

مسئولان در ریاست معارف ولایت هرات از آغاز کار بازسازی ۲۵ باب مدرسه و مکتب به هزینه ۲۰ میلیون و ۱۶۴ هزار افغانی از بودجه وزارت معارف در مرکز و ولسوالی های این ولایت خبر میدهند.

محترم مولوی رحمت الله جابر رئیس معارف ولایت هرات حین گشایش پروژه ساخت مراکز تعلیمی یاد شده گفت ... صفحه ۲



# معرفی سیستم «برید» به روئسای معارف ولایات جنوب و جنوب غرب کشور

در نشست که به گونه آنلاین به هدف ارائه معلومات در مورد



کارکرد سیستم الکترونیکی حفظ و ارسال اسناد (برید) با روئسای معارف ولایات جنوب و جنوب غرب کشور از سوی ریاست عمومی انسجام امور ولایتی دایر گردیده بود محترم الحاج قاری سیف الله آخندزاده رئیس تکنالوژی معلوماتی وزارت معارف با اشاره به مزایا و خوبی های سیستم یاد شده معلومات داده گفت: سیستم « برید » به منظور نگهداشت وارسال به موقع اسناد، مکاتیب، گزارشات کاری ریاست های معارف، ارسال هدایات رهبری وزارت معارف از مرکز به ولایات و برعکس آن، اخذ گزارشات ریاست های معارف بدون ضیاع وقت و جلوگیری از سرگردانی مراجعین در چوکات وزارت معارف با ولایات ایجاد گردیده است.

در این نشست هم‌چنان کارکنان تخنیکی ریاست عمومی انسجام امور ولایتی این وزارت پیرامون بخش های تخنیکی سیستم یاد شده به روئسای معارف ولایات یاد شده معلومات دادند.

در ادامه این ویدیو کنفرانس مسئولان معارف ولایات نیز پرسش های را در رابطه به چگونگی کارکرد سیستم یاد شده مطرح کردند که ازسوی کارشناسان پاسخ داده شد.

## په کابل کې د یو شمېر مدارسو او ښوونځیو د سیرت النبي «صلی الله علیه وسلم» سیالیو ممتاز زده کوونکي وستایل شول




د کابل ښار پوهنې رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني په داسې حال کې چې د لسمې ښوونیزې ناحیې آمر، مدیرانو، استادانو، علماء کرامو او د زده کوونکو والدینو هم حضور درلود، د یادې ناحیې د مدارسو او ښوونځیو د ځلورم تر دولسم ټولګي د سیرت النبي «صلی الله علیه وسلم» سیالیو ممتاز زده کوونکي وستایل.

د پوهنې رئیس د خپلو خبرو په ترځ کې د بشریت د ستر لارښود حضرت محمد «صلی الله علیه وسلم» ښو اخلاقو، سلوک او نېکو کړنو ته په اشارې سره ځوانانو ته لارښوونه وکړه، چې د ګران پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» تګلاره تعقیب او په خپل ژوند کې یې پلې کړي.

همدارنګه په دې غونډه کې یو شمېر علماء کرامو هم د خپلو خبرو په لړ کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په سیرت او ژوندانه رڼا واچوله او ځوانان یې وهڅول چې تل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم لار تعقیب او د هغه په سنتو پابند واوسي.

په پای کې ۴۰ تنه ممتاز زده کوونکي چې په یادو سیالیو کې یې تر نورو لوړې نمرې ترلاسه کړې وې، د کابل ښار پوهنې ریاست د رهبرۍ له خوا په ډالیو وویاړل شول.

## ساخت صنوف جدید درسی برای لیسه غازی عبدالله در شهر کابل

مسئولان در ریاست معارف شهر کابل از ساخت ۷ باب صنف درسی جدید و دیوار احاطوی لیسه غازی عبدالله از مربوطات ناحیه هفتم شهر کابل خبر می‌دهند.

به گفته مسئولان ریاست معارف شهر کابل هزینه مجموعی ساخت صنوف یاد شده ۹ میلیون و ۵۴۱ هزار افغاني تخمین شده است که از سوی یک نهاد حمایت کننده معارف پرداخت می شود. قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف شهر کابل حین گشایش کار



پروژه یاد شده، ضمن بیان اهداف و پالیسی های وزارت معارف در قبال بسط و توسعه نهادهای تعلیمی در مرکز و ولایات، تصریح کرد که عرضه خدمات متوازن تعلیمی برای اولاد وطن از اولویت های این وزارت می باشد.

## افتتاح ساختمان جدید یک باب مکتب در ولایت بدخشان



تعمیر جدید مکتب جامرچ در ولسوالی مایمی ولایت بدخشان پس از تکمیل کار ساختمانی آن از سوی مسئولان ریاست معارف و شماری از علماء کرام، شخصیت های فرهنگی و نماینده گان مردم ولسوالی یاد شده افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

محترم الحاج مولوی نصرت الله فیضانی رئیس معارف ولایت بدخشان می‌گوید تعمیر مکتب یاد شده دارای ۱۳ صنف درسی با تمامی ملحقات آن به صورت پخته و اساسی در مساحت دو جریب زمین ساخته شده است که ساخت آن ۲ میلیون و یک صد هزار افغانی هزینه برداشته است که از سوی یک نهاد همکار با معارف پرداخت گردیده است.

به گفته رئیس معارف این ولایت با ساخت این مکتب زمینه فراگیری آموزش برای ۵۶۰ تن از شاگردان محل فراهم گردیده است.

مسئولان ریاست معارف در سخنرانی شان از شاگردان خواست تا در حفظ و نگهداری تعمیر و لوازم مکتب یاد شده توجه نمایند.

با این حال شماری از باشنده گان محل نیز از ساخت مکتب یاد شده ابراز خورسندی نموده و از مسئولان معارف از بهر ساخت این مکتب سپاسگزاری نموده و حمایت شان‌را از برنامه های معارف اعلام داشتند.

**سفر سرپرست وزارت معارف به...**

رئیس و شماری از مسئولین ریاست معارف ولایت کنر همراهی می شد با شاگردان و استادان شماری از مکاتب ولسوالی های نورگَل، څوکی و نرنگ نیز دیدار کرد.

سرپرست وزارت معارف طی سخنرانی شان در محفلی که به استقبال ایشان از سوی باشنده‌گان محل و مسئولان معارف ولسوالی نورگل راه اندازی شده بود در مورد اهمیت تعلیم و تربیه صحبت نموده گفت: در عصر حاضر آموزش علوم دینی و عصری هر دو از اهمیت خاص برخوردار است و یگانه راه پیشرفت و ترقی کشور و خود کفایی افغانستان وابسته به فراگیری علم می باشد.

در این گردهمایی شماری از علمای کرام و بزرگان قومی نیز سخنرانی نموده، در رابطه به اهمیت تعلیم و تربیه صحبت نمودند و دستاوردهای سه ساله وزارت معارف را در توسعه علوم دینی و عصری در کشور بی پیشینه خواندند.

در این گردهمایی سرپرست وزارت معارف شماری از شاگردان ممتاز مکاتب را با اهدای پول نقد مورد تشویق قرار داد.

**ښوونکي د ټولنې ...**

څرګنده خبره ده چې ښوونکي نه یوازې د هېواد د بچیانو په سالمه روزنه کې اساسي ونډه لري بلکې ښوونکي دي چې د نرۍ ملتونه یې د ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې د برې لوړو پوړونو ته رسولي دي، له دې امله ښوونکي په ټوله نړۍ کې د ملتونو تر منځ د قدر او ستاینې وړ اشخاص دي، چې دا ستاینه د دوی حق ده.

زموږ د هېواد ښوونکي خپله سپېڅلې دنده په پوره ایمانداري او صداقت سره سرته رسوي، نه غواړي چې د هېواد بچیان د سواد له نعمت څخه بې برخې پاتې شي.

ښوونکي دي چې د انساني ټولنې په جوړولو کې رغنده ونډه لري په ټوله نړۍ کې د ښوونکي درناوی تر ټولو زیات کېږي دا ځکه چې په ارزښت یې قایل دي. نن که موږ ګورو عالمان، مخترعین او د ټولنې پېژندل شوي شخصیتونه دا ټول د ښوونکو له خوا روزل شوي دي.

د پوهنې وزارت رهبري د ګرانو ښوونکو ټولو زحمتونو ته د قدر په سترګه ګوري او د خپل توان تر حده کوښښ کوي چې د ښوونکو د اقتصادي وضعیت د لا ښه کولو لپاره لازم اقدامات تر سره کړي تر څو ګران ښوونکي وکولای شي د هېواد بچیان په آرامه او سالمه فضا کې په اسلامي روحیه وروزي.

**افتتاح یک باب مدرسه دینی ...**

به مدارس و مکاتب بفرستند.

شماری از باشنده گان محل نیز از ساخت این مدرسه دینی از مسئولان ریاست معارف آن ولایت ابراز قدردانی نموده و وعده ی هرگونه همکاری را برای بهبود و تقویت هرچه بیشتر نظام آموزشی در کشور اعلام داشتند.

**آغاز کار بازسازی ۲۵ باب مکتب و ...**

این پروژه ها به هدف بهبود سازی زیر ساخت های تعلیمی و فراهم نمودن محیط مناسب آموزشی برای شاگردان به ویژه در ساحات دور دست و محروم اجرا می گردند.

وی افزود: ترمیم مکاتب شامل ترمیمات اساسی مکاتب و مدارس، بازسازی صنف های درسی و فراهم آوری سایر امکانات و سهولت های آموزشی می باشند.

باید گفت که با ترمیم و بازسازی این مکاتب فضای مصئون آموزشی برای هزاران تن از شاگردان مکاتب مرکز و ولسوالی های ولایت هرات فراهم میگردد.

**بامیانو کې د خلکو په...**

اټکل شوی دی چې د سیمې د اوسېدونکو لخوا ورکول کېږي. دده په وینا د یادې دیني مدرسې په جوړېدو سره به د یادې سیمې په سلګونو تنه طالب العلمانو ته د زده کړې خوندي او مناسب چاپېریال را منځ ته شي.

د پوهنې رئیس د خپلو خبرو پر دوام د پوهنې په برخه کې د خلکو مالي مرستې صدقه جاریه اعمالو څخه وګڼلې او له خلکو یې وغوښتل، چې خپلې مرستې په ورته خیریه کارونو ولګوي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو د یادې مدرسې له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې د ودې په برخه کې یې د پوهنې وزارت له پلانونو او برنامو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

د پوهنې وزارت رهبري هم د بامیان ولایت د سرخ دره سیمې د اوسېدونکو د مالي ملاتړ څخه مننه او قدرداني کوي.

**ننګرهار کې د یو باب دیني ...**

ټینګار وکړ او له هېوادوالو یې وغوښتل چې د پوهنیز نظام په لا پیاوړتیا کې د پوهنې وزارت د پلانونو په پلي کولو کې مرسته وکړي.

همدا راز نورو ویناوالو هم د یادې مدرسې له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په ټولنه کې یې د پوهنې پر اهمیت د خبرو پرمهال ژمنه وکړه چې خپل اولادونه به د زده کړو په موخه مدارسو او ښوونځیو ته استوي.

د پوهنې وزارت رهبري د هېواد له پوهنیز نظام سره د افغان ولس، په ځانګړې توګه د لعلپورې ولسوالۍ د علم دوسته اوسېدونکو د ملاتړ له امله مننه کوي.

# ثابت ذهنیت او د ودې ذهنیت

**د بریا او ناکامۍ تر منځ توپیر**

په ژوند کې، انسانان دوه ډوله ذهنیتونه لري: یو یې ثابت ذهنیت دی او بل د ودې ذهنیت. هر یو له دې ذهنیتونو زموږ په چلند، ورتیاوو، او د بریا یا ناکامۍ په مقابل کې زموږ په غبرګون کې اساسي رول لوبوي.

**ثابت ذهنیت: یو کلک چوکاټ**

ثابت ذهنیت داسې حالت دی چې پکې انسان خپل ځان او ورتیاوې په یو کلک چوکاټ کې بندوي. دا ذهنیت لرونکي کسان باور لري چې د دوی ورتیاوې، مهارتونه، او شخصیتي خصوصیات تلپاتې او نه بدلېدونکي دي. دوی فکر کوي چې که یو مهارت یا ورتیا لري، نو دا یو ثابت حقیقت دی او که یې نه لري، نو هیڅکله به یې هم ترلاسه نکړي. دا ډول ذهنیت د انسان پرمختګ محدودوي او د ځان لپاره نوې لارې لټول ورته ستونزمن کوي.

کله چې د ثابت ذهنیت لرونکی څوک له یوې ناغېړۍ یا ناکامۍ سره مخ شي، د هغوی غبرګون اکثره په ناهیلیتوب او غوسه کې څرګندېږي. د دې دلیل دا دی چې دوی باور لري چې هره ناکامي د دوی شخصیت او ورتیاوو ته یو مستقیم ګواښ دی. دوی د دې پر ځای چې له ناکامۍ زده کړه وکړي او ځان پرمختګ ته چمتو کړي، په هماغه حالت کې ګېر پاتې کېږي او د ودې لاره ځان ته بنده ګڼي.

**د ودې ذهنیت: د پرمختګ لار**

په مقابل کې، د ودې ذهنیت یو داسې حالت دی چې پکې انسان باور لري چې د ورتیاوو او مهارتونو وده او پرمختګ ممکن دی. دا ذهنیت لرونکي کسان پوهېږي چې هر انسان کولی شي د زحمت، هڅو، او زده کړې په مټ خپلې ورتیاوې لوړې کړي او خپلې نیمګړتیاوې ښې کړي. د ودې ذهنیت لرونکي کسان په دې باور دي چې هېڅ شی ثابت او تلپاتې نه دي، بلکې هر څه له وخت او حالاتو سره بدلېږي.

په پایله کې، د انسان ذهنیت زموږ د بریا او ناکامۍ تر منځ یو مهم توپیر جوړوي. ثابت ذهنیت انسان محدودوي، او د دې پر ضد د ودې ذهنیت انسان ته د پرمختګ او نوښت لارې خلاصوي. موږ باید خپل ذهنیت وپېژنو او هڅه وکړو چې د ودې ذهنیت ته وده ورکړو، ترڅو په هره برخه کې بریالي شو.

په دې توګه، مهمه دا ده چې موږ هره ستونزه او ننګونه د یو پرمختیایي فرصت په توګه ومنو، نه د یو ګواښ په توګه. دا ذهنیت موږ ته اجازه راکوي چې په خپلو ورتیاوو باور ولرو، خپلو هدفونو ته د رسېدو لپاره له هرې ستونزې سره په زغرده مخ شو او د یو روښانه راتلونکي لپاره هڅې وکړو.

**رحیم پښتونیار**

# نېکمرغي

- په ایمان او نېک عمل کې د ښه ژوند راز نغښتی دی.
- پوهه او معرفت تر لاسه کړه، دیني کتابونه لوله، ځکه په دې سره غمونه او اندېښنې لرې کېږي.
- له ګناهونو توبه اوباسه د الله جل جلاله نافرماني پرېږده، ځکه دا ژوند تباه کوي.
- د قرآن کریم تلاوت ډېر کوه او تفسیر یې هم مطالعه کوه.
- د الله تعالی ذکر ډېر کوه، ځکه په دې سره زړه سکون مومي او ژوندی کېږي.
- له خلکو سره ښېګڼه کوه، چې په دې کې د زړه سکون نغښتی دی.
- زړه له حسد او کینې څخه پاک وساته، بې ځایه خبرې او له اړتیا ډېر خوراک ګول پرېږده.
- د نن په فکر کې اوسه، تېر هېر کړه او د راتلونکي غمونه پر ځان مه باروه.
- په اندېښمنو حالاتو کې په ناوړه فکرونو پسې مه درومه.
- غوسه مه کوه، په هر حال صبر کوه او ځان له ښېنې سره آشنا کړه.
- ستونزې ځان ته مه ډېروه ، بلکې ښه تدبیر وکړه.
- په ستونزمنو حالاتو کې شته نعمتونه در یاد کړه، چې مصیبت در څخه سپک شي.
- بده خبره پخپله ویونکي ته زیان رسوي.
- له دنیوي تمې پرته له خلکو سره د الله جل جلاله د رضا لپاره ښه کوه.
- په اندېښمنو حالاتو کې د یوه ښه کار په اړه فکر کوه او ځان په هغې بوخت ساته.
- د نن کار سباته مه پرېږده.
- الله تعالی چې څه شتمني ، روغتیا او داسې نور درکړي، پر هغې خوښ اوسه.
- له نږدې او لرې ټولو خپلوانو سره ښه چلن کوه.
- تل له الله جل جلاله څخه د ښېنې، عافیت او نېکو چارو د ترسره کولو توفیق غواړه.

# د حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله تعالی عنه) ویناوې

۱. تر ټولو کمزوری انسان هغه دی چې ملګری و نه لري.
۲. د مور او پلار خوشحالي دنیا کې د شتمنۍ او آخرت کې د نجات لامل کېږي.
۳. له ګناه توبه کول ښه دي، خو له ګناه ځان ساتل ډېر ښه دي.
۴. هره پېښه چې کېږي هغه نږدې ده، خو مرګ تر هغې هم نږدې دی.
۵. له سړیو شرم ښه دی، خو له ښځو شرم ډېر ښه دي.
۶. پاک نفسه انسان چې خپله ستاینه اوري، شرمېږي.
۷. د ځوانۍ ګناه بده ده، خو د بوډاتوب بدتره ده.
۸. د شتمن صدقه ښه ده، خو د غریب ډېره ښه ده.
۹. علم د پېغمبرانو میراث دی او شتمني د فرعون او قارون میراث دی.
۱۰. زړه مړ دی، خو په علم را ژوندی کېږي .
۱۱. علم مړ دی، خو په طلب (غوښتلو) ژوندی کېږي.
۱۲. څوک چې د الله جل جلاله کارونو ته مخه کړي، الله جل جلاله د هغه کارونو ته مخه کړي.
۱۳. بدبخته انسان هغه دی چې پخپله مړ شي او ګناه یې ژوندۍ وي.
۱۴. د ستونزو جرړه د انسانانو خبرې دي.
۱۵. له بدو خبرو یوازیتوب ښه دی او له یوازیتوبه د علماء کرامو مجلس ښه دی.
۱۶. د هر شي ثواب په اندازه دی، خو د صبر ثواب بې اندازې دی.
۱۷. څوک چې یوازې ګیلې او شکایتونه نه کوي، هغه خوندور ژوند ته رسېږي.
۱۸. څوک چې د ژړا زور نه لري، په ژړېدونکو دې رحم وکړي.
۱۹. له خلکو تکلیف لرې کول او خپله یې اخیستل لوی سخاوت دی.
۲۰. شهوت له پاچا، غلام جوړوي.
۲۱. ښه انسان چې عالم شي خاکسار شي او بد انسان چې عالم شي مغرور شي.
۲۲. اخلاص دا دی چې د عمل بدله ونه غوښتل شي.


# چگونه فرزند حرف شنو داشته باشیم؟

**کودک حرف شنو چگونه کودکی است؟**

آیا حرف شنو بودن کودک به معنای کودک مطیع و رام است؟ امروزه با توجه به تغییر سبک زندگی خانواده‌ها و در دسترس بودن ابزارهای ارتباطی و شبکه‌های مجازی، شاهد تغییر رفتار و علایق کودکان نسبت به زمان گذشته هستیم. این تغییر رفتار در کودکان امروزی سبب به وجود آمدن مشکلاتی از جمله حرف نشنوی کودکان از والدین می شود. گوش ندادن کودکان به حرف های والدین‌شان دلایل زیادی دارد از جمله آن‌ها می توان به تحت تأثیر قرار گرفتن آنان از شبکه های اجتماعی، کانال های ماهواره ای یا در اثر مبتلا بودن کودکان به اختلالات رفتاری باشد. حرف شنو نبودن کودکان اگر از حدی فراتر رود نیاز به درمان و توجه کامل والدین دارند.

**چگونه کودک حرف شنو داشته باشیم؟**

اگر به طور مرتب بخواهیم با کودکان خود در خصوص استفاده از لباس گرم به مشاجره بپردازیم در نهایت ممکن است نه تنها به مقصود خود نرسیم بلکه حالتی از لجبازی و سرکشی را در آنها تقویت کنیم حال آنکه اگر اجازه دهیم آنان با عواقب ناشی از حرف گوش نکردن روبرو شوند ممکن است در دراز مدت به نتایج بهتری دست پیدا کنیم. اگر به کودک یاد آوری کنیم که درد و رنج کنونی خودت در اثر بیماری سرماخوردگی ناشی از حرف گوش نکردن در چند روز قبل و نپوشیدن لباس مناسب است. احتمال آنکه در مراتب بعدی کودک به درجات بالاتری از فرمانبرداری و حرف گوش کردن برسد بالاتر است.



**چه موقع از روش فوق میتوانیم استفاده کنیم؟**

البته آنچه ذکر شد تنها در مواردی صدق می کند که صدمات احتمالی کودک به خود و یا دیگر کودکان محدود و کنترول شده باشد، در مواردی که نافرمانی کودک به میزانی باشد که بیم خطرات و آسیب های جدی وجود داشته باشد استفاده از خدمات مشاوره گریز ناپذیر است.

**لزوم تغییر در نگرش و دیدگاه ها**

آنچه که توجه به آن برای والدین لازم و ضروری به نظر می‌رسد، آنست که امروز دیگر انتظار داشتن کودک کاملاً مطیع و فرمانبردار در حقیقت انتظاری نابجاست، علاوه بر اینکه این امر عملاً امکان پذیر نیست اصرار بر انجام آن می‌تواند صدماتی جدی به روابط کودک و والدین درآینده وارد کنند. باید به خاطر داشته باشیم که خاطرات دوران کودکی جزء مهم از خاطرات در کل دوران زندگی هر شخصی میباشد، خاطرات دوران کودکی قسمتی مهم از آن چیزی هستند که در آینده ضمیر ناخودآگاه کودک ما را می سازند.

بی گمان هیچکدام از ما دوست نداریم کودکانی فاقد اعتماد به نفس داشته باشیم این گونه کودکان مشکلاتی جدی در خصوص ساختن زندگی و آینده خویش خواهند داشت. نوجوان و یا جوانی که دوران کودکی اش پر از خاطرات تحکم آمیز پدر و مادر خود باشد یقیناً نمی‌تواند ادعا کند دوران کودکی خوبی را پشت سر گذارده است. افرادی که دوران کودکی مناسبی را پشت سر نگذارده باشند با انواع مشکلات در آینده مواجه خواهند بود بهترین دلیل برای صحت این ادعا می‌تواند رجوع به دوران کودکی خودمان باشد، بی گمان هیچ‌کدام از ما نمی توانیم تأثیراتی که کودکی ما در شکل دهی به زندگی آینده ما داشته است را انکار کنیم.

**ذهن خود را از پیش داوری ها پاک کنیم**

برای داشتن کودک حرف شنو قبل از هر چیز لازم است ذهن خود را از هرگونه پیش داوری و باورهایی که در صحیح بودن آن‌ها تردید وجود دارد پاک کنیم لازم است ما در مقابل کودک خود مسئول باشیم و می بایست در برابر وی رفتاری شایسته از خود نشان دهیم. آنچه که ما علاقمند به آن هستیم لزوماً مسائلی نیستند که کودک ما نیز علاقمند به انجام آن باشد ابتداء باید از صحت و سقم درخواست هایی که از کودک خود داریم اطمینان کامل داشته باشیم به عنوان مثال: کودکی که در طول روزهای متمادی در محیط بسته آپارتمان حبس بوده است و به دلیل مشخصات زندگی های شهری کمتر موفق به دیدار همسالان خود می‌شود زمانی که همسالان و سایر کودکان فامیل را می بیند طبیعی است که میل به بازی و انجام جنب و جوش با آنها را داشته باشد البته این احتمال هست که سر و صدای ناشی از بازی کودکان برای ما بزرگسالان ناخوشایند باشد بنابراین از کودک خود خواهیم خواست که سر و صدا نکند و همچون ما بزرگسالان نشسته و در خصوص اقتصاد یا مسائل سیاسي به بحث و گفتگو بنشیند. احتمالاً زمانی که وی این درخواست ما را اجابت نمی کند بسیار متعجب میشویم و آنرا به حساب این می گذاریم که کودک حرف شنو نداریم حتی شاید لازم بدانیم به یک مشاور روان‌شناس مراجعه کنیم.

# مسائل تربیتی کودکان

همه چیز کودک به سرعت در حال تغییر است. مسایل تربیتی مؤثری که امروز به کار می‌بندید، ممکن است فردا دیگر به کار نیاید؛ بنابراین برخی از رفتارهای کودک که ممکن است از آن‌ها خوشتان نیاید، پس از مدتی تغییر خواهد کرد. هیچ چیز نهایی در مورد کودک وجود ندارد؛ پس مطمئن و صبور باشید.

در مسائل تربیتی کودکان بکوشید که با کودک برخورد لطیفی داشته باشید و کارهای نیک‌اش را به دقت و با صراحت تشویق کنید؛ مثلاً به جای این که به طور کلی به او بگویید: «چقدر مهربان هستی!» بگویید: «کار خوبی کردی که اسباب بازی‌هایت را به دوستت دادی.

اگر قصد تشویق یا انتقاد داشتید، به اعمال و رفتارها توجه کنید، نه به اشخاص؛ به عنوان مثال: بهتر است بگویید: «پاره کردن این کتاب‌های قشنگ کار اشتباهی است»؛ و نگویید: «چقدر بچه بدی هستی که کتاب‌هایت را پاره کردی».

درباره مسائل تربیتی کودکان همواره تلاش کنید که تشکرها و تشویق‌های خود را از کودک در میان جمع اظهار کنید، و انتقادها را در وقت تنهایی.

اگر با کودک تان مشاجره کرده‌اید، به سرعت به دنبال عادی سازی وضع باشید. می‌توانید از «جنگ بالشت‌ها» کمک بگیرید. هر کدام در یک سوی اتاق بایستید و بالشت‌ها را به سمت هم پرتاب کنید. پس از چند دقیقه خنده و شادی به جمع شما می‌پیوندد و ناراحتی‌ها از یاد می‌رود.

در تربیت فرزند کودک را با کارهایی که هرگز انجام نمی‌دهید تهدید نکنید؛ مثلاً به او نگویید:

«اگر به فلان کار دست بزنی تو را تنها در منزل می گذارم و من به پارک می‌روم.»

تشویق در باب مسائل تربیتی کودکان گاهگاهی می‌توانید با تشویق کردن، کودک را از انجام کارهای اشتباه‌اش باز دارید.

اگر فرزند شما کمتر از دو سال دارد، در مورد انجام کاری از او سوال نکنید؛ چون جواب منفی خواهد داد، مثلاً نپرسید: «دوست داری به پارک برویم؟» بلکه بگویید: «حالا با هم به پارک خواهیم رفت.» اگر کودک شما عصبانی شد و به علت عدم انجام خواسته‌اش شروع به گریه و فریاد کرد، سعی نکنید که خواسته‌ای او را که برآورده نکرده‌اید حالا برآورده سازید؛ زیرا با استفاده از این نقطه ضعف شما، دفعات بعد هم به گریه و عصبانیت رو می‌آورد.

Newspaper
# Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوی:**
الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعیب «حقیقی»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»
**محمد اشرف «رسولی»**

**ډیزاینر :** محمد قسیم «یعقوبی»
**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ بـه ایمیـل آدرس ذیـل ارسـال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکي شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 286 /2024

# کنړ کې د ۱۱ مېلیونه افغانیو په لګښت د یوه ښوونځي ودانۍ جوړېږي



د کنـړ ولایـت څوکـۍ ولسـوالۍ اړونـد زوړ کلـي کـې د یـو بـاب لومړنـي ښـوونځي د جوړېدو چارې د یو لـړ مراسـمو پـه تـرڅ کـې چـې پـه کـې د یـاد ولایـت د مقـام مرسـتیال محتـرم الحـاج مولـوي عبداللـه حقانـی، د پوهنـې رئیـس محتـرم مولـوي محـب اللـه حیـدري، یـو شـمېرعلماءکرامو او قومـي مخـورو حضـور درلـود پیـل شـوې.

د کنـړ ولایـت د پوهنـې رئیـس محتـرم الحـاج مولـوي محـب اللـه حیـدري د یـاد ښـوونځي د بنسـټ ډېـرې ایښـودو مراسـمو کـې وویـل:

یـاد ښـوونځی ۴ درسـي ټولګـي، دوه اداري خونـې او نـور اړیـن ملحقـات لـري چې پـه یـو نیـم جریـب ځمکـه کـې به پـه پاخـه او اساسـي ډول جـوړ شـي. د ده پـه وینـا د یـاد ښـوونځي د جوړېـدو ټولټـال لګښـت ۱۱ میلیونـه افغانـۍ اټـکل شـوی چـې لـه معـارف سـره د یـوه همـکار بنسـټ لـه خـوا ورکـول کېـږي. هغـه زیاتـه کـړه چـې د یـاد ښـوونځي پـه جوړېـدو سـره بـه د سـیمې شـاوخوا ۳۳۰ تنـه ماشـومانو تـه د زده کـړې زمینـه برابـره شـي.

د یـاد کلـي اوسـېدونکو هـم پـه خپلـه سـیمه کـې د ښـوونځي پـر جوړېـدو خوښـي څرګنـده کـړه او د پوهنـې وزارت لـه مشـرتابه یـې مننـه او قدردانـي وکـړه.

# د آنلاین راپور ورکولو سیستم په برخه کې د مرکزي ریاستونو مسئولینو ته ورکشاپ جوړ شو

د پوهنـې وزارت د څارنـې او ارزونـې ریاسـت لـه لـوري د یـاد وزارت د معلوماتـي ټکنالـوژۍ ریاسـت پـه همـکارۍ د آنلایـن راپـور ورکولـو د یـو ځانګـړي سیسـتم طرحه جـوړه او پـه اړه یـې د مرکـزي ریاسـتونو د راپـور ورکولـو مسـئولینو تـه روزنیـز ورکشـاپ پـه لار واچـول شـو.

د یـاد ورکشـاپ پـه پرانیسـتغونډه کـې د پوهنـې وزارت د څارنـې او ارزونـې رئیس اخیسـتنې او د یـاد وزارت د سیسـټمونو بریښـنايي کېـدو تـه پـه اشـارې سـره وویـل: لـه یـاد سیسـتم څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې سـره بـه د اسـنادو سـاتنې، پـه لېـږد کـې د چټکتیـا او لازیاتـې روڼتیـا ترڅنـګ، د ریاسـتونو ترمنـځ د هغـو پـه لېـږد رالېـږد کـې د وخـت د ضایـع کېـدو مخـه هـم ونیـول شـي.

د یادونـې وړ ده، چـې د یـاد سیسـتم تخنیکـي چـارې د پوهنـې وزارت پـه




محتـرم مولـوي غـلام ربـي ربانـي، یـو شـمېر کارپوهانـو او د پوهنـې د مرکـزي ریاسـتونو د راپـور ورکولـو مسـئولینو ګـډون درلـود. د پوهنـې وزارت د څارنـې او ارزونـې رئیـس پـه ورځنیـو چـارو کـې لـه ټکنالـوژۍ څخـه د ښـې ګټـې مرکـزي دفترونـو کـې بشـپړې شـوې دي خـو د ولایتونـو د پوهنـې ریاسـتونو ترمنـځ د راپـور ورکولـو د سیسـتم د بشـپړېدو چـارې روانـې دي او پـه نېـږدې راتلونکـي کـې بـه ګټـې اخیسـتنې تـه چمتـو شـي.

# ساختمان یک باب مکتب ابتدائیه در نیمروز گشایش یافت

سـاختمان یـک بـاب مکتـب ابتدائیه در روسـتای سـیادک از مربوطـات شـهر زرنـج مرکـز ولایـت نیمـروز از سـوی مسـئولین معـارف، شـماری از علمـاء کـرام و اهالـی روسـتای یـاد شـده افتتـاح و بـه بهـره بـرداری سـپرده شـد.

محتـرم الحـاج مولـوی گل احمـد حقانـی رئیس معـارف ولایـت نیمـروز می‌گویـد:

سـاختمان مکتـب ابتدائیـه یـاد شـده دارای ۸ صنـف درسـی، دو اتـاق اداریِ بـا تمامـی ضروریـات آن بـه هزینـه ۳ میلیـون ۸۰۰ هـزار افغانـی از سـوی یـک تـن از شـخصیت هـای علـم دوسـت بنـام الحـاج نظـر محمـد نـورزاد سـاخته شـده اسـت کـه بـرای ۷۰۰ تـن از اطفـال ایـن روسـتا زمینـه آمـوزش در فضـای مصئـون فراهـم گردیـده اسـت.

در ایـن حـال باشـنده گان محـل نیـز از سـاخت ایـن مکتـب در روسـتای شـان از رهبـری وزارت معـارف و شـخص کمـک کننـده از بهـر اینکـه بـرای فرزنـدان شـان زمینـه فراگیـری تعلیـم و تربیـه را فراهـم نمـوده اسـت ابـراز تشـکر و قدردانـی نمودنـد.

آنـان هم‌چنـان از سـایر هموطنـان کـه توانایـی مالـی دارنـد می‌خواهنـد تـا بـا معـارف کشـور همـکاری مالـی نمـوده تـا تعلیـم و تربیـه در کشـور گسـترش یابـد.

رهبـری وزارت معـارف حمایـت هـای مـردم از نظـام تعلیمـی کشـور را یکـی از عناصـر مهـم در ترقـی و تعالـی کشـور دانسـته و از ایـن احسـاس معـارف دوسـتی اهالـی شـهر زرنـج اظهـار سپاسـگزاری مـی کنـد.



# بامیانو کې د خلکو په مالي مرسته د یو باب دیني مدرسې د جوړولو چارې پیل شوې

د بامیـان ولایـت پـه سـرخ دره سـیمه کـې د ځایـې اوسـېدونکو پـه مالـي مرسـته د حضرت پیغمبـر صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه نـوم د یـو بـاب دینـي مدرسـې د جوړولـو چـارې د دې ولایـت د پوهنـې رئیـس محتـرم قـاري عنایت‌اللـه سـهار ، علمـاء کرامـو او یـو شـمېر ځایـې اوسـېدونکو لـه لـوري پیـل شـوې.

د بامیـان ولایـت د پوهنـې رئیـس د معلوماتـو پـه بنسـټ د یـادې مدرسـې د جوړېـدو ټولټـال لګښـت ۷ میلیونـه افغانـۍ...

۲مخ

# غزني کې د معارف دوسته خلکو په مالي مرسته د یو باب دیني مدرسې او یو ښوونځي د جوړېدو چارې پیل شوې

د غزنـي ولایـت د قـره بـاغ ولسـوالۍ اړونـد د شـکي نوکـه پـه کلـي کـې د خلکـو پـه مالـي مرسـته د ابـو ریحـان البیرونـي پـه نـوم د یـو بـاب ښـوونځي او د ګیـلان ولسـوالۍ اړونـد د هوتـک پـه کلـي کـې د یـو بـاب دینـي مدرسـې د جوړېـدو چـارې پیـل شـوې.

د غزنـي د پوهنـې رئیـس محتـرم الحـاج مولـوي میـر نصیـر احمـد حسـیني د ابـو ریحـان البیرونـی ښـوونځي د پرانیسـتې پـر مهـال وویـل : یـاد ښـوونځی چـې د زده کـړې ټولـې لازمـې آسـانتیاوې بـه ولـري د خلکـو پـه مالـي مرسـته د ۶ میلیونـه او ۴۶۰ زره افغانیـو پـه لګښـت پـه ۱۱ جریبـه ځمکـه کـې پـه پاخـه او اساسـي ډول جوړېږي چـې د یـاد ښـوونځي پـه جوړېـدو سـره بـه دې سـیمې ۴۰۰ تنـه زده کوونکـو تـه د زده کـړې مناسـب او خونـدي چاپېریـال رامنځتـه شـي.



همـدا راز د غزنـي د پوهنـې ریاسـت چارواکـي د ګیـلان ولسـوالۍ اړونـد د هوتـک پـه کلـي کـې د خلکـو پـه مالـي مرسـته د یـو میلیـون افغانیـو پـه لګښـت د یـو بـاب دینـي مدرسـې ودانـۍ د جوړېـدو چـارو لـه پیـل خبـر ورکـوي. د مسـئولینو د معلوماتـو پـه بنسـټ پـه پام کـې ده د یـادې مدرسـې ودانـۍ چـې ۶ درسـي ټولګـي، یـوه اداري خونـه او د اوبـو رسـولو سیسـتم سـره لـه ټولـو اړینـو ملحقـات بـه ولـري پـه یـو جریـب ځمکـه کـې پـه پاخـه او اساسـي ډول جـوړه شـي چـې ددې سـیمې پـه سـلګونو تنـه طالـب العلمانـو تـه بـه پـه کـې د زده کـړې مناسـب چاپېریـال رامنـځ تـه شـي.

د یادونـې وړ ده چـې د سـږ کال پـه بهیـر کـې د هېـواد پـه بېلابېلـو ولایتونـو کـې د خلکـو پـه مالـي مرسـته پـه لسـګونو دینـي مدرسـې او ښـوونځي جـوړ شـوي دي چـې پـدې سـره د هېـواد پـه زرګونـو تنـه طالـب العلمانـو او زده کوونکـو تـه د زده کـړې زمینـه برابـره شـوې ده.

د پوهنـې وزارت مشـرتابه هـم د ښـوونیز نظـام پـه برخـه کـې د خلکـو لـه مرسـتو مننـه کـوي.

# ننګرهار کې د یو باب دیني مدرسې د جوړېدو چارې پیل شوې

د ننګرهـار ولایـت پـه لعل پورې ولسـوالۍ کـې د امـام ابـو حنیفـه ( رحمـة اللـه علیـه) پـه نـوم د یـو بـاب دینـي مدرسـې د بنسـټ ډبـره د یـاد ولایـت د پوهنـې رئیـس محتـرم مولـوي عزیزاللـه مصطفـی، یـو شـمېر علمـاء کرامـو او قومـي مشـرانو لـه لـوري د یـو لـړ مراسـمو پـه تـرڅ کـې کېښـودل شـوه.

د ننګرهـار ولایـت د پوهنـې رئیـس وایـې چـې د یـادې مدرسـې د جوړېـدو ټولټـال لګښـت ۱۱ میلیونـه او ۵۶۰ زره افغانـۍ اټـکل شـوی چـې د همـدې ولسـوالۍ یـو تـن علـم پـروره شـخص لـه لـوري مرسـته شـوې. دده پـه وینـا د یـادې مدرسـې پـه جوړېـدو سـره بـه د دې سـیمې پـه سـلګونو تنـه طالـب العلمانـو تـه د زده کـړې زمینـه برابـره شـي.

د پوهنـې رئیـس د خپلـو خبـرو پـه دوام پـه لـرو پرتـو او محرومـو سـیمو کـې د ښـوونیزو بنسـټونو پـر پراختیـا...

۲مخ

# کندز کې د یو باب منځني ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د کنـدز ولایـت مرکـز اړونـد «د اسـتاد عبداللـه منځنـي ښـوونځي» نـوې ودانـۍ د یـو لـړ مراسـمو پـه تـرڅ کـې، چـې پکـې د یـاد ولایـت پوهنـې رئیـس محتـرم مولـوي حـزب اللـه مبشـر، اسـتادانو او یـو شـمېر قومـي مخـورو ګـډون درلـود، ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوه.

د ښـوونځي د دغـې نـوې ودانـۍ پـه جوړولـو ۱۶ مېلیونـه او ۵۰۰ زره افغانـۍ لګښـت راغلـی، چـې د پوهنـې د یـو ملاتـړ بنسـټ لخـوا ورکـړل شـوي دي.

یـاد ښـوونځی ۸ درسـي ټولګـي، دوه اداري خونـې لـه ټولـو اړینـو آسـانتیاوو سـره لـري.

د کنـدز پوهنـې رئیـس پـه خپلـو خبـرو کـې لـه خلکـو وغوښـتل، تـر څـو خپـل ماشـومان مدارسـو او ښـوونځیو تـه واسـتوي او زده کوونکـو تـه یـې سپارښـتنه وکـړه، چـې د ښـوونځي د وسـایلو سـاتنې تـه جـدي پاملرنـه وکـړي.

**جمال و زیبایی به لباس نه بلکه به داشتن علم و ادب است.**